# د فیسبوک کاروني لارښود

- ایډي جوړونه
- گروپ جوړونه
- د فیسبوک گټې
- د فیسبوک اداب
- او د ستونزو حل

ژباړه او زیاتونه: تورياليٰ همت




Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

# د فیسبوک کاروني لارښود

لیکوالان: بېلابېل

ژباړه او زیاتونه: تورياليی همت

CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

**د کتاب ځانګړنې:**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | **د فیسبوک کارونې لارښود** |
| لیکوالان | : | **بیلابیل** |
| ژباړه او ژباړونه | : | **توریالی همت** |
| ډیزاین | : | **صادق الله صادق** |
| چاپ کال | : | **۱۳۹۴ ل. کال** |
| چاپشمېر | : | **۱۱۰۰ ټوکه** |
| د خپرونو لړ | : | **(۲۷۶)** |


## خپرندوی

**ګودر کتاب خپرنځی- ننګرهار**

ګودر کتاب پلورنځی، لاندینی پوړ، اسحق زي مارکېټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد

اړیکې: ۰۷۹۵۳۵۳۶۱۰-۰۷۹۸٤۸۷۸۷۹-۰۷۸۲۵۰۰۹۱٦



meenasadiqs@gmail.com



**د چاپ حقوق له کتاب خپرنځي سره خوندي دي.**

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

# ډالۍ

هغو والدينو ته!

چې د خپلو اولادونو د سالمې روزنې لپاره د سترړيا له تکيې نه دي دمه شوي.

هغو ځوانانو ته!

چې فيسبوک د خپلو علمي اړتياوو پوره کولو په نيت کاروي

او محب الله يار ته!

چې ملګرتيا پالنه يې د معنوي ارزښتونو پر بنسټ ودانه ده.

ت. همت

CamScanner

# د همت، همت

کلونه پخوا مې د لومړي ځل لپاره دفکس ماشین ولیده، یوه ورځ ورته فکس راغی، همدا چې فکس مې ترې واخیست، فکس چیغې پیل کړې، لکه د اور وژنې الارم. سخت ووېرېدم، ما فکر کاوه چې ګواکې په نا پوهۍ کې رانه خراب شو، خو فکس جوړ روغ و، کاغذ یې خلاص شوی و ځکه یې چیغې وهلې.

کله چې د یوې وسیلې په هکله پوره مالومات ونه لرو، ښکاره ده چې له وسیلې نه په سمه توګه ګټه نه شو اخیستی.

فیسبوک هغه ټولنیزه شبکه ده چې هره ګړۍ او هر ساعت یې مینوال ډېرېږي، له افرادو نیولې ان تر دولتي ادارو، شخصي کمپنیو، شرکتونو او.... ټول ترې ګټه اخلي؛ خو موږ لا ددغې ټولنیزې شبکې په هکله دقیق مالومات نه لرو او نه یې په سمې کارونې پوهېږو.

د تل په څېر دې چارې ته هم یوه لیکوال ملا تړلې ده، ځکه خو لیکوال د ټولنې سترګې بلل کېږي.

ځوان لیکوال او ژورنالیست توریالي همت یادوم، چې دې برخه کې یې خورا ګټور کتاب ژباړلی دی. دا کتاب دوه برخې لري، یوه د فیسبوک اسانه زده کړه ده او بله برخه یې د فیسبوک د کارونې په هکله معالومات دي، چې دا برخه یې ډېره اړینه ده، دې برخه کې د کورنیو او مشرانو لپاره ځینې سپارښتنې دي او دا یې ډېره مهمه برخه هم ده.

د فیسبوک ډېرې مینوال ځوانان دي او دا شبکه هم د یوه ځوان لخوا جوړه شوې ده. دا ځوان (مارک زوکربرګ) نومېږي.

مارک زوکربرګ د ۱۹۸۴ کال د مې په ۱۴ نېټه د امریکا په نیویارک ایالت کې زېږېدلی دی. زوکر برګ د امریکا په هاروارد پوهنتون کې د ارواپوهنې په برخه

کې زده کړې کړي دي. نوموړي د فیسبوک لومړنی چارې په ۲۰۰۴ کال کې پیل کړې وې،ده غوښتل چې د پوهنتون د محصلینو لپاره یوه داسې وسیله جوړه کړي چې پر مټ یې وکولای شي خپلو کې سره معلومات تبادله کړي.

خو وروسته یې د نورو همکارانو او ملګرو په مرسته دا شبکه نړیواله کړه او زورکر برګ هم نړیوال شخصیت شو.

دی په ۲۰۰۸ کال کې د نړۍ ځوان میلیاردر په نوم هم وپېژندل شو او په ۲۰۱۰ کال د کال غوره شخصیت لقب یې هم خپل کړ.

کله چې نړیوالو په تېره امریکایانو د فیسبوک ورتیاوې وځارلې نو ددوی لپاره په اصطلاح لنګه غوا شوه. د امریکا د جاسوسۍ سازمان د فیسبوک له چارواکو سره اړیکې ټینګې کړې او ګډه همکاري یې ورسره پیل کړه.

د امریکا د استخباراتو کارپوهان وایي: فیسبوک د استخباراتو له ادارې سره همکاري لري او ددې په مرسته کولای شي چې د خلکو په هکله ډېر مالومات راټول کړي.

د ویکلي لیکس موسس (جولین اسانژ) په یوې مرکې کې ویلي: فیسبوک د جاسوسۍ تر ټولو غوره وسیله ده.

بلخوا د (فکت زون)خبرې شبکې ویلي چې د امریکا د امنیت ادارې ویلي دي چې فیسبوک د ټولو هغو وسایلو ځای ونیوه چې د استخباراتو ادارې د معلوماتو د راټولونې په برخه کې ترې ګټه اخیستله.

خو دا هغه موضوعات دي چې عام وګړي ترې نا خبره دي، خو ځینو دولتونو او په یاده برخه کې ځینو کارپوهانو بار، بار له فیسبوک نه په رسمي توګه شکایتونه هم کړي دي. چې په ځینو شکایتونو غور شوی او په ځینو سترګې پټوي.

CamScanner

په هر صورت، که بیرته اصلي موضوع ته راشم، همت صیب په یادو کتابونو ډېره خواري کړې ده، ماته له ژباړې نه لیکل ډېر اسانه دي، شاید همت صیب هم په دې لړ کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوی وي. ژباړه یې بده نه ده، په ساده او عام فهمه ژبه ژباړل شوی دی، داسې فکر نه کېږي چې دا به ژباړه وي.

خو په یاد کتاب کې کمی د پښتو لغاتونو دی، که چېرې همت صیب وشي کولای چې ځینو نومونو ته پښتو سوچه لغاتونه راپیدا کړي او د اصلي انګلسي نومونو ترڅنګ وکارول شي ډېره ښه ده. ځکه دا کتاب د نویو لغاتونو د انتقال او خپرولو لپاره ډېر مناسب دی.

همت صیب ته د کتاب د چاپېدو مبارکي ورکوم ، د لا پرمختګ لپاره ورته دعا کوم او تاسو درنو لوستونکو ته ددغه ګټورو کتاب د لوستلو سپارښتنه کوم.

بری مو په برخه!

ستا ورور

آرش ننګیال

۲۰۱۵ کال، د مې۲۸ مه

جلال کوټ

CS CamScanner

## مخ مو د بدرنګۍ له داغه سپین اوسه!

فضا ته د يوې توغول شوې بېړۍ ويډيو مې ليدله چې ستورمزلي يې سپوږمۍ ته لېږدول، يوه ډله تکنالوجستان په يوه لويه عصري خونه کې ورته راټول او د کمپيوټر پرښيښه د خپلې تجربې ننداره کوي، فضايي بېړۍ چې کله مريخ ته په برياليتوب سره داخلېږي، د ځمکې پرمخ خونه کې راټول وګړي له ډېرې خوښۍ چغې او شور جوړوي، يو بل ته غاړې ورکوي او خپلې خوښۍ نمانځي. دا ويډيو مې د لومړي ځل لپاره د فيسبوک په وال وليده چې يو ملګري پرې ځړولې وه، ياني د مريخ په اړه پخوانی خيال مې د فيسبوک له برکته په حقيقت بدل شو. له هغې ورځې چې د فيسبوک په نړۍ کې د يو غړي په صفت خپله ونډه اخلم، د ملګرتيا پراخېدو سربېره مې علمي مطالعه کې پام وړ بدلون هم راغلی دی، ډېر کله چې په علمي برخه کې له کومې ستونزې سره مخ شوی يم؛ نو لنډه منډه مې د همدې فيسبوک دلارې علمي اشخاصو سره اړيکنيونه وي؛ خو لاهم د دغې شبکې له پوره کارولو سره بلدتيا نه لرم، مګر (د فيسبوک کاروني لاربښود) له دوو اړخونو، هم له تخنيکي او هم په اخلاقي لحاظ ځينو نوو مسايلو ته متوجه کړم، خاصتاً هغه ځوانان چې له دې نړۍ سره نوي بلد شوي او دا اسانتيا د غچ اخيستنې په بڼه کاروي، دا کتاب ورته مثبتې لاربښوونې لري.

فیسبوک چې د مخکتاب په مانا دی، باید کاروونکي یې هم داسې اخلاقي رویه ولري لکه مخامخ چې څوک د یو چا څېرې ته ګوري او اعمال یې ترې قیاسوي.

زه چې ډېری فیسبوک کاروونکي په ځانګړي ډول ځوانان ګورم، فیسبوک د اعتیاد تر کچې کاروي، مطالعه او نور ټولنیز مسوولیتونه یې هېر کړي وي، په لار، موټر، بازار، کارځای، ښوونځي، پوهنتون او آن مسجدونو کې که بل څه نه وي د تصویر اخیستو لپاره خو یې حتمي کاروي.

دغو ټولو بدمرغیو ته په کتو مې ددغه کتاب چې دوه برخې (تخنیکي او اخلاقي لارښوونې) لري، خورې پښتو ته په دې نیت وژباړه چې زموږ ځوانان له فیسبوک سره د تخنیکي بلدتیا سربېره اړوند اخلاقي بریدونه هم زده او په پام کې ونیسي.

باید یاده کړم، چې ددغه کتاب د ژباړې په ایډېټ کې زما ګران همکار او تکړه ژورنالست یوسف ظریفي هم ځان ستړی کړی چې زه یې د احسان منندوی یم.

په پای کې له ګران او زړه ته رانږدې ملګري انجینر وحید ندیم څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې زه تل په دې لاره کې روزلی او هڅولی یم.

درنښت

د فېسبوک له مثبتو ګټو برخمن اوسئ

ستاسې کشر

توریالی همت

# لیکلړ

**موضوع** **مخ**

## لومړۍ برخه


په فیسبوک کې د نوم ثبتولو زده کړه........................ ۱

د فیسبوک نورې برخې ........................ ٤

د شخصي حریم د تنظیم کولو بشپړه زده کړه........................ ۱۰

په فیسبوک کې شریک کول ........................۱٤

په فیسبوک کې د پروفایل تایید یا verify کول ........................۲۲


## دویمه برخه


د والدینو لپاره د فیسبوک کارونې لارښوونې ........................۲۵

فیسبوک څه شی دی؟ ........................۲۷

د فیسبوک پرمټ کوم کارونه ترسره کولای شو؟ ........................۲۸

ولې ځوان نسل فیسبوک کاروي؟ ........................ ۳۰

ایا فیسبوک یو ډاډمن چاپېریال دی؟ ........................ ۳۱

د ټولنیزو رسنیو په کارونه کې کوم خطرات شته؟........................ ۳۲


CamScanner

په ټولنیزو رسنیو کې مهم خطرات عبارت دي له : ........................ ۳۳
د فیسبوک کاروونکو سره څنګه لکه د والدینو عمل وکړو؟ ........... ۳٤
په فیسبوک کې د اولادونو د فعالیتونو د نظارت لارې ................. ۳۷
امنیتي حریم او په نني عصر کې ترې ساتنه ................................ ۳۸
نېک شهرت، اعتماد او انټرنیټي پلټنه ...................................... ٤۰
څنګه خپلو اولادونو ته د فیسبوک تنظیمات غوره کړو؟ ................. ٤۲
د نابالغو اشخاصو لپاره اضافي امنیتي تدابیر ............................ ۵۰
شخصي کول ........................................................... ۵۵
فیسبوک کې ګروپ جوړونه Groups ........................................ ۵۸
د ستونزو راپور............................................................ ٦٦
د ځان وژنې مخنیوی....................................................... ٦۷
پایله .................................................................. ٦۹


# په فیسبوک کې د نوم ثبتولو زده کړه

فیسبوک هغه نوم دی، چې کم خلک به ورسره اشنايي ونه لري. دا هغه ټولنیزه شبکه ده، چې په نړۍ کې یې پرمټ انقلابونو او بدلونو ته لاره هواره شوې ده.

په دې مطلب کې به تاسو وپوهېږئ، چې څنګه کولای شئ، د فیسبوک د پراخې نړۍ یو غړی شئ او خپل ګډون پکې وکړئ.

د دې لپاره چې فیسبوک سره یوځای شئ، لومړی باید په خپل کمپیوټر یا مبایل کې د «www.facebook.com» پاڼه خلاصه کړئ. دا چې تاسو د لومړي ځل لپاره فیسبوک کاروئ او غواړئ یو اکونټ جوړ کړئ؛ نو د «sign up» پر کلیمې کلیک وکړئ، تاسو ته به یوه کړکۍ را خلاصه شي، چې د ځینو معلوماتو غوښتنه کوي.


کولای شئ په لاندیني تصویر کې یې وګورئ.



کله مو چې غوښتل شوي معلومات ولیکل نو لاندیني برخه کې هغه چې په شنه رنګ لیکل شوي «sign up» باندې کلیک وکړئ.

کیدلای شي، تاسو ته په تورو کرښو څه لیکل در وښودل شي، چې باید په خالي ځای کې هماغه توري خوا په خوا ولیکئ.

په تصویر کې همدا حالت وګورئ:





د ښودل شویو توریو پواسطه د خالي ځای تر ډکولو وروسته بیا د « sign up » پر تڼئ کلک وکړئ، په دې سره په فیسبوک کې ستاسو په نوم اکونټ جوړېږي او تاسو ته تاییدي یو ایمیل درلیږل کېږي.


تردې وروسته په فیسبوک کې لومړنیو تنظیماتو ته دعوت کېږي.

د دوستانو د پیدا کولو مرحله تاسو ته سپارښتنه کېږي، چې د « skip this step » پرتوري د دریو ځلو لپاره کلیک وکړئ بیا د خپل فیسبوک پاڼي ته ورشئ.

دلته مو لا فیسبوک ته د لاسرسي ټول تنظمات نه دي ترسره کړي او غوښتل شوي بدلونونه مو لانه دي پوره کړي .


Step 1
Find Friends
Step 2
Profile Information
Step 3
Profile Picture
Are your friends already on Facebook?
Many of your friends may already be here. Searching your email account is the fastest way to find your friends on Facebook.
Gmail
Your Email:
Email Password:
Find Friends
Facebook won't store your password.
Windows Live Hotmail
Find Friends
Yahoo!
Find Friends
Other Email Service
Find Friends
Skip this step
له دې ځایه ووځئ
Nodiran.com


Step 1
Find Friends
Step 2
Profile Information
Step 3
Profile Picture
Fill out your Profile Info
This information will help you find your friends on Facebook.
High School:
College/University:
Employer:
Back
Skip
Save & Continue
Nodiran.com





## د فیسبوک نوري برخې

کله مو چې د فیسبوک نوم ثبتونه بشپړه کړه، په لاندې تصویر کې ښودل شوې صفحې ته به ورسیږئ.

په تصویرکې په سرو تورو باندې ځایونه نښه شوي دي.

د شمېرو په اساس تاسو ته ددې برخو په اړه وضاحت او معلومات درکوو.





۱ـ که له تاسو څخه چا د ملګرتوب غوښتنه کړي وي په دې ځای کې تاسو ته معلومېږي.

فیسبوک داسې نه دی، چې څوک د هغه له اجازې پرته وګورو بلکې د ملګرتیا اړیکه دوه طرفه ده .



٢- که مو نوی پیغام ترلاسه کړی وي او یا مو د پیغام ځواب لیږل شوی وي په دې ځای کې تاسو ته ښودل کېږي.





٣- دا د اطلاعاتو برخه ده، د ډېرو بدلونواو نورو مواردو په اړه چې ستاسو اړوند وي دلته ذکر کېږي.

د مثال په توګه د یو شخص لخوا ستاسو د ملګرتیا د غوښتنې منلو په اړه معلومات، یا ستاسو لخوا د یو شریک شوي، مطلب او تصویر لپاره هرکمنټ او لایک چې دنورو لخوا ورکول کېږي او ان تردې په کوم بل مطلب تاسو کمنټ کړی او چې کله نور خلک هم پرې کمنټ وکړي، تاسو ته یې په اړه معلومات درکول کېږي.




۴- د کورپاڼه چې تاسو اوس هم پکې قرار لرئ، کله چې فیسبوک ته ورځئ همدې پاڼې ته دعوت کیږئ.




۵- ستاسو پر وفایل هرهغه څه، چې د فیسبوک نور کاروونکي کولای شي، دې ځای ته په ورتلو ستاسو په اړه معلومات ترلاسه کړي. دا برخه

بیا خپله په څو ځانګو ویشل شوې، چې وروسته به یې په اړه معلومات درکړل شي .




٦- د فیسبوک ملګري، چې تاسو به یې له بیلا بیلو لارو پیداکړئ. « صبر وکړئ هغې مرحلې ته به هم ورسیږو»

٧- ستاسو د کارولو تنظیمات په دې ځای کې ترسره کیږي.

٨- کله چې په کور پاڼه کې یو کولای شو د ٨ او ١٢ برخې غوره کړو؛ لومړۍ برخه چې دلته د ٨ په شمیرې نښه شوې، د ښه راغلاست برخه ده دلته ستاسو او ستاسو د اکونټ په اړه اطلاعاتو ته ځای ورکړل شوی، چې له تاسو غواړي بشپړ یې کړئ.

٩- دې برخې ته اصلي پاڼه یا (Home) ویل کیږي، په دې پاڼه کې وروستي اطلاعات ،مطالب او تصویرونه ښودل کیږي چې تاسو خوښ کړي وي .

١٠ – لیږل شوي او ترلاسه کړي پیغامونه کولای شئ، له دې ځایه ترلاسه کړئ.

۱۱- یادښتونه په فیسبوک کې یو له جالبو هغو دي کولای شئ، د مهمو مسایلو د ورځو په اړه، د خوښیو محفلونو دوخت په اړه چې تاسو خپله یاداشت کړي او تر ټولو مهم یې ستاسو د فیسبوک د ملګرو د زیږیدو کلیزې دي، چې فیسبوک یې در یادوي او تاسو یې باید هیڅ وخت هیر نه کړئ.

۱۲- کله مو چې په دې برخه کلیک وکړ کولای شئ، ډېر ملګري ولټوئ او نوي دوستان پیداکړئ.

د ملګرو په انتخاب کې باید ډېر دقیق اوسئ، ډېر شمېر ته یې مه خوشالیږئ، په دې برخه کې به وروسته نور معلومات درکړل شي.

۱۳- که تاسو د فیسبوک د کوم ګروپ غړي اوسی کولای شئ نوم یې دلته وګورئ او له دې ځایه ورته لاسرسی پیداکړئ.

که غواړئ خپله یو ګروپ جوړ کړي، نو «creat group» ته مراجعه وکړئ .

۱۴- د ډېرو لپاره په زړه پورې همدا ده، کولای شئ د فیسبوک ټولو لوبو په اړه اطلاعات دلته وګورئ.

۱۵- دا هم د پورته ذکر شوې برخې په څیر ده، په دې توپیر چې د پروګرامونو په اړه ده.

۱۶- دا ځانګړې شوې د تصویرونو لپاره، په دې برخه کې وروستي تصویرونه چې ستاسو ملګرو او یا مو پخپله شریک کړي وي کتلی شئ.

۱۷- د ګروپونو برخه ده، کولای شئ د هغو ګروپونو چې غړي یې یاست وګورئ او له دې ځایه یې مدیریت کړئ.

۱۸- د یادښتونو برخه که څه هم دا ډېر کاروونکي نه لري؛ خو مهمه ده؛ ځکه تاسو پکې خپل او د ملګرو وروستي یادښتونه لیدلی شئ.

۱۹- دا برخه د هغو لینکونو لپاره ځانګړې ده، چې ستاسو ملګرو شریک کړي توپیر لري، هغه دادی چې په فیسبوک کې کله یو لینک شریک کوئ، د هغې پاڼې یوه برخه هم ښکاره کوئ.

۲۰ – په دې برخه کې به ستاسو انلاین دوستان درمعلومېږي.

۲۱ ـ د لټون زمینه هغه څه دي، چې تاسو یې پرمټ کولای شئ، پروګرامونه ، لوبي ، فیسبوک پاڼې او په فیسبوک کې شته ډېر نور څه البته هغه چې امکانات یې برابر شوي وي، د مثال په ډول تاسو نشئ کولای، ملګري پیدا کړئ، چې هغه تاسو بلاک کړي وي.

۲۲- په ژوندۍ بڼه ستاسو له ملګرو سره اړیکه له دې ځایه کولای شئ، خپلو ملګرو سره چټ وکړئ.

## د شخصي حریم د تنظیم کولو بشپړه زده کړه

په تېرو مطالبو کې په فیسبوک کې د غړیتوب برخه کې معلومات درکړل شول.

لکه مو چې ولید لومړني ګامونه مو پورته کړل، د فیسبوک نړۍ ته راتلو لپاره دغه راز د شخصي حریم برخه کې هم لږ ډېر څه در وښودل شول.

اوس به تاسو په فیسبوک کې د شخصي حریم په اړه په بشپړ ډول پوه شئ.

د فیسبوک د پروفایل او اطلاعاتو برخو کې د شخصي حریم تنظیمات د محدودیتونو لپاره ترسره کېږي.

که تاسو د فیسبوک پخواني کاروونکي هم یاست سپارښتنه کېږي، چې یوځل بیا راسره دا تنظیمات وګورئ.

د فیسبوک په بیلا بیلو برخوکې تنظیمات د جوړیدا او بدلون وړ دي، چې تاسو به یې په لاندې ډول مشاهده کړئ.





د ۱ شمېرې تصویر

د خپل فیسبوک اکونټ ته داخل شئ او د پورته تصویر په شان پاسنی برخې ښي اړخ ته پر« ACCOUNT» باندې کلیک وکړئ.

بیا پرانیستل شوي لیست کې پر « PRIVACY SETTINGS » باندې کلیک وکړئ .

تاسو ته به د دویمې شمېرې تصویر په څیر صفحه پرانیستل شی .





د ۲ شمېرې تصویر.

## ۱- د پایې اطلاعاتو تنظمول :

په پاڼه کې د « CONNECTING ON FACEBOOK » خواته چې پر ۱ شمېرې نښه شوی دی کلیک وکړئ.

دا برخه د هغو اطلاعاتو پورې تړاو لري، چې نور یې ستاسو د لټون لپاره لري.

ستاسو ټول اطلاعات په دې برخه کې له وړاندې شته دي. مثلا ستاسو نوم د لټون وړ دي او ستاسو پروفایل ته په ورتلو نوم ، تصویر، زده کړې ، داستوګنې ځای او دخوښې وړ شیان مو ...




د ۳ شمېرې تصویر

۱-۱ تاسو د دې توان لرئ، چې خپل نوم د لټون له لیست څخه بهر کړئ.


که ستاسو په نوم فیسبوک کې هرڅوک ستاسو د پیداکولو هڅه وکړي نه مو شي موندلای.

کولای شي دا غیر فعالول د ټولو په مقابل «EVERYONE» ، د ملګرو « FRIENDS» او یواځې ملګرو « FRIENDS ONLY » ترسره کړئ.

۱-۲ د دوستی امکان باید د کومو کسانو لپاره فعال وي ملګري - ملګري؟

۱-۳ کوم کسان کولای شي تاسو ته پیغام ولېږي ؟ ټول - ملګري - ملګري یا یواځې ملګري.

۱-۴ ستاسو د ملګرو لیست کوم کسان لیدلای شي ؟ دا برخه د دریو برخو لرونکي د سپارښتني امکان « CUSTOMIZE» او پر « CUSTOMIZE» باندې کلیک کولو سره یو برخه پرانیستل کېږي لکه په لاندې تصویر کې .




د ۴ شمېرې تصویر

څرنګه چې لیدل کېږي، دا پاڼه دوه برخې لري لومړی برخه چې غواړي ستاسو د ملګرو لیست لیدو ته څوک لاسرسی ولري . دویمه برخه چې کولای شئ هلته د خپلو ملګرو لیست ته د نورو لاسرسی بند کړئ.

په لومړی کړکی کې کولای شئ، ملګري - ملګري یواځې ملګري یواځې ځان او ځانګړي اشخاص غوره کړئ، چې بیا به ځانګړې ساحه کې د هغو ځانګړو خلکو نومونه ذکر کوئ.

۱-۵ دا برخه د نورو لاسرسی ستاسو د کار او تحصیل په اړه معلوماتو ته ده او د څلورو برخو لرونکې ده، چې مخکې یې په اړه وضاحت وکړل شو .

۱-٦ ستاسو د زیږیدو ځای او استوګنې ښار په اړه معلوماتو تنظم کولای شئ، په دې ځای کې وکړئ.

۱-۷ وروستۍ برخه یو له مهمو هغو د دې پاڼې ده . فیسبوک کې به تاسو په مذهبی ، سیاسی ، ټولنیزو ، ورزشی برخوکې مطالب او هم د فلمونو ، سینما ټلویزیون ، کتابونو موسیقي او نورو برخوکې فعالیتونه کړي وي .

کیدلای شي نور ددي توکیو په لیدو ستاسو ملګرتیا ته جذب شی مګر امکان لري دا ډېره جالبه نه وي، نو له دي ځایه پري محدودیت وضع کړي !


وروسته له دي چې په دې برخوکې مو تغیرات راوړل د پاڼي پرمخ پر «BACK TO PRIVACY» باندې کلیک وکړي څو د تنظیماتو اصلي پاڼي ته وګرځي .

## په فیسبوک کې شریک کول

کوم تنظیمات چې په دې برخه کې ښودل کېږي، د هغو اطلاعاتو پورې تړاو لري، چې تاسو یې فیسبوک کې شریک کوئ.

لکه چې ګورئ څلور انتخابه ستاسو په واک کې دي، لومړی ټول اطلاعات د ټول ملګري - ملګري یواځې ملګري او دسپارښتني په توګه ښودل شوي وي چې په ۲ نمبر تصویر کې پر « customize setting » باندې، کلیک کولو سره ښودل شوي وو.

نوې پاڼه له ډېرو نورو توضیحاتو سره ده، چې په دوام به یې په اړه معلومات درکړل شي.




د ۵ شمېرې تصویر

## Things 1 share


Posts by me : د posts by me برخه کې کولای شئ، هغه پوستونه چې شریک کوئ، د ځینو له لیدو خارج کړئ ټول تنظیمات د لومړي برخې په شان دي چې مخکې تشرح شو .

Family : که مو د فیسبوک لیست کې د کورنۍ له غړو کوم شامل وي کولای شی دا اړیکه په مخفي او یا عام ډول تنظیم کړئ.

Relationships: په فیسبوک کې د relationship د ډولونو تنظیم وجود لري، که ملګري نه لرئ، نور چې معلومات ولري کولای شئ دلته هغه وګوري.

Interested in and looking for: دا برخه په فیسبوک کې د نویو ملګرو د پیژندنې لپاره اړینه ده، د Interested in and looking for

برخه کې تاسو باید مشخص کړئ، چې د کوم جنسیت لرونکي یاست، که مو دا برخه ډکه کړه؛ نو مدیریت یې هم کړئ.
Bio and favorite quotations: خپل ژوند او د خپلېش خوښې نقل قولونه په دې ځای کې تنظیم کړئ.
Website: که انټرنیټي ویبپاڼه لرئ، کولای شئ ورته د لاسرسي اسانتیا دلته جوړه کړئ.
Religious and political views: کولای شئ د خپل مذهب او سیاسي فکر په اړه دلته معلومات د ټولو او یا یوې ځانګړې ډلې لپاره پرېږدئ.
Birth day : ستاسو د زیږیدو کلیزه غواړئ، ستاسو د فیسبوک له ملګرو د کومو کټه ګوریو خلک یې په اړه معلومات او اطلاع ولري.
Places I check in to : هغه ځایونه چې تاسو په فیسبوک کې ثبت کړي دي .
که دا برخه فعاله وساتئ هغه ځای، چې ستاسو اي پی ښکاره کوي، ښه به واضح شي د لا وضاحت لپاره
«see an example» پرلیکلو کلیک وکړئ، ممکن د هغو کسانو پروفایل چې تاسو ترخوا دي ښکاره شي، همداسې ستاسو پروفایل هغوي ته.
Edit album privacy : په دې ځای کلیک کولو سره به تاسو ته پاڼه خلاصه شي، چې تصویرونو ته مو پرې لاسرسی کېږي، که د کار پیل مو وي؛ نو دا برخه به د تنظیم لپاره تاسو ته خه ونلر؛ ځکه لا به مو د تصویرونو البوم نه وي جوړ کړی.
دا تنظیمات د البومونو جوړولو برخه کې وي، یوه خبره چې باید پام مو وي، دا برخه لږ څه ستونزمنه ده؛ ځکه د ډېرو جوړو شویو البومونو مدیریت یو څه سخت دی.




د ٦ شمېرې تصویر

**Things other share:**

Photos and videos iam tagged in : ستاسو د فیسبوک ملګري دا صلاحیت لري، څو خپل تصویرونه او ویډیوګانې ستاسو پر پروفایل ونښلوي.

کیدلای شي دا کار ستاسو د نارضایتۍ سبب او حتی مشکل سره مو مخ کړي .

تاسو کولای شئ پر « edit setting » باندې کلیک وکړئ او د لارښونو په تعقیب دا کار بند کړئ.

Can comment on posts : له دې ځایه کولای شئ د خپلو پوستونو لپاره نظریات تعقیب کړئ.

Suggest photos of me to friends : دا برخه ستاسو ملګرو ته چانس ورکوي څو ستاسو له شباهت څخه له نورو تصویرونو تاسې وپېژني .

Friends can post on my wall: که دا برخه مو نه وي بنده کړي په دې مانا ده چې ستاسو ملګري کولای شي ستاسو پر وال څه شي ولیکي.

Can see wall posts by friends : له دې ځایه کولای شی د خپلو پوستونو لیدونکي مشخص کړي .

Friends can check me in to places: کولای شی د « edit setting» په کلیک کولو دا امکان فعال یا غیر فعال کړي .

ددې په فعالولو ستاسو دوستان کولای شی بیلا بیلو ځایونو کې ستاسو اکونټ وګوري .




د ۷ شمېرې تصویر

**Contac information :**

په لاندیني برخه کې کولای شی داړیکو اطلاعاتو ته لاسرسی محدودیت ثبت کړي .

په دې اطلاعاتو کې د مبایل شمېره ، نورو ټیلفونونو شمېرې او ایمیل ادرس ثبت کړي .

په دې برخه کې د ټولو تنظیماتو وروسته بیرته اصلي پاڼې ته ورځو ددې لپاره تاسو د پاڼې لومړي برخې ته مراجعه وکړي او پر « back to privacy » کلیک وکړي .

په دې کار سره به د ۲ شمېرې تصویر په څیر پاڼې ته ورشي د « apps and websites »او د edit your setting باندې کلیک وکړي .

دابرخه د پروگرامونو تنظیم لپاره ده .

## Apps and websites:




د ۸ شمېرې تصویر

## Apps you use:

په دې برخه کې هغه پروگرامونه چې کاروي یې ښودل کېږي مګر داچې لا مو فیسبوک کې کار نه وي پیل کړي هیڅ ډول اپلیکیشن نه وي موجود .

که نه غواړي په اینده کې له ځینو پروگرامونو کار واخلي له دي ځایه یې لرې کړي او یا پرې محدودیت ولګوي .

دا برخه مو تل په یاد اوسه !

**Info accessible through your frinds:**

په تنظیماتو کې دا یوه مهمه برخه ده .

پر edit setting کلیک سره به یوه کړکۍ پرانیستل شي چې پرمټ یې کولای شئ، خپل پروفایل ته د خپلو ملګرو د ډېرو اپلیکیشنونو مخه ونیسئ.

په دې کار محدودیت لکولو لپاره بسنه کوي، چې د tag برخه لیرې کړئ.

**Game and app activity:**

کوم کسان کولای شي ستاسو وروستي فعالیتونه ننداره کړي ؟

**Public search:**

که ملګري نه لري او نوم مو د لټون په لیست کې وموندل شي کولای شئ، پر edit setting کلیک وکړئ او په نوې پاڼه کې له enable public search څخه د« OK » نښه لیرې کړئ.

د تنظیماتو دا برخه هم بشپړه شوه اوس یو وروستۍ برخه پاتې ده.


**Block lists:**

دا د فیسبوک کاروني د پیل پړاو کې چندان نه کارول کېږي، مګر دا چې دلته د شخصي حریم برخه کې معلوماتو خبره ده نو تاسو ته ویل کېږي خو د block lists برخه کې پرedit your lists باندې کلیک وکړي .

تاسو به هغې پاڼې ته یوسي چې دblocks شویو لیست پکې موجود دي.

په دې مانا که مو کوم شخص یا پروګرام block کړي وي دلته یې مدیریت کولي شی .

CamScanner




د ۹ شمېرې تصویر


**Block users:**

د هغو کسانو نوم او یا ایمیل ادرس دلته ورکړئ، چې تاسو ترې په عذاب یاست او مزاحمت کوي، په بشپړ ډول به ترې خلاص شئ.
البته یاد مو اوسه چې دا برخه د هغو لپاره نه ده چې تاسو غواړي ملګرتیا مو ورسره وساتي.

**Block app invites:**

ځینې وخت تاسو نه غواړي یو ملګري سره مو اړیکي پرې کړي خو د هغه له لوري د بیلا بیلو پروګرامونو دعوت نامو ستړي کړي یې کولای شي د دعوت نامو لیږلو امکان یې بند کړي .


## په فیسبوک کې د پروفایل تایید یا verify کول




کېدلای شي، فیسبوک کې د ځانګړي، اکونټ جوړولو او یا د نورو اپلیکیشنونو برخه کې « verify » کولو ته تایید ته اړتیا ولري .

دا کار د ایمیل له لارې هم امکان لري، دغه راز کولای شئ د مبایل ټیلفون نه هم ګټه واخلئ.

کله مو چې د خپل مبایل شمېره دننه کړه confirm کلیک کړي ستاسو مبایل ته به د څلورو تورو لرونکي یو کود درولیږل شي .



## په فیسبوک کې ځانګړي ادرس:

یوه پوښتنه چې ډېر خلک یې کول په فیسبوک کې د ځانه کړي ادرس جوړولو په اړه ده.

که فیسبوک ته نوي راغلي یاست خپل پروفایل ته ورشئ، ادرس مو له ډېرو حرفونو څخه جوړ دی، چې په یاد ساتل یې ستونزمن کار دی.

که تاسو هم غواړئ زما د شخصي ادرس په شان یو هغه ولرئ نو راسره پاتې شئ.




که مخکې مطالبو کې مو ټول هغه زده کړي وي نو اوس مهرباني وکړي دي ادرس ته ورشئ .

په دې برخه کې کولای شی خپلي خوښی ادرس نوم غوره او دننه یې کړي .

فیسبوک به تاسو ته څو وړاندیزونه درکړي چې وروستیو کې یې تاسو کولای شي د خپلي خوښې نوم غوره کړئ.

څو مهم ټکي، چې باید پاملرنه ورته وکړي .

۱-کیدلای شئ د

before you can set your username you need to verify your account

پیغام سره مخ شئ.

۲- پام وکړئ، چې له دې ادرس څخه استفاده او د url خانګړي ستاسو پروفایل لپاره یواځې یو ځل جوړېږي، نو باید تاکنه کې دقیق اوسئ.

۳-ستاسو غوره شوی نوم به تردې، وروسته

http : // facebook.com/yourselectedname

په دې ډول د موندلو وړ وي.

# د والدینو لپاره د فیسبوک کاروني لارښووني

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

ليکوالان : اني کولیر او لیري ماګد (larry magid)
ژباړن: توريالی همت

CamScanner

**سریزه :**

والدینو ته دفیسبوک کاروني لارښووني کتاب ته ښه راغلاست ددي کتاب مطالب داسې برابر شوي چې تاسو سره به مرسته وکړي ترڅو د فیسبوک ټولنیزي شبکي له گټو لاښه برخمن شی .

ددي کتاب د مطالبو په لوستو به ستاسو د فیسبوک کارونه لا موثره او هم به وشی کړای ځوانان له انحرافاتو وژغوري .

داډېره مهمه ده چې د فیسبوک ځوانانو کارونو سره تاسو اړیکي ټینگي وساتي دا له څو اړخونو چې دلته یې باید یادکړو .

لومړي : که مو ځونانو د فیسبوک په کارولو خدای مکړه انحرافاتو ته مخه کړي وي کولای شو د نصیحت له لاري یې وپوهو او دسمي لاري لارښونه ورته وکړو .

دویم :نن سبا انټرنیټ او د فیسبوک په شان ټولنیزي رسنی چې دکاروونکو شمېر یې ورځ تر بلي زیاتېږي پکې له ځار پرته د ځوانانو بوختیا له زیانونو خالي نه ده نو ځکه په دې برخه کې د والدینو مشوري خورا مهمې دي .

غواړم یوي خبري ته ستاسو پام راواړوم چې د فیسبوک په دې لارښود کې نوي تکتیکونو ته هم ځاي ورکړل شوي دي چې ستاسو سره به په ورځنی ژوند کې ډېره مرسته وکړئ .

# فیسبوک څه شی دی؟

فیسبوک یوه ټولنیزه انټرنیټي شبکه ده، چې په ټوله نړۍ کې له « ۵۰۰» میلیونه ډېرکاروونکي لري او تراوسه په ۷۰ ژبو خپرونې کوي.
د دې شبکې غړیتوب لپاره لږترلږه د ۱۳ کلنۍ عمر شرط ټاکل شوی، په داسې حال کې، چې نوي ځوانان یې هم کاروونکي دي خو اکثریت ورڅخه د ډېرعمر کسان ګټه پورته کوي.
فیسبوک نه یواځې په فردي توګه بلکې د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې د شرکتونو ، دولتي ادارو او سازمانو لخوا په دې هدف کارول کېږي، تر څو خپل پیغامونه ترنورو ورسوي ، بازار موندنه وکړي او هم د خپلو خیریه کارونو ترسراوي لپاره بودیجه ترلاسه کړي.
فیسبوک هغه ټولنیزه شبه ده چې د انټرنیټ نړۍ کې یې د بیلا بیلو برخواو جلا ـ جلا ذوقونو او فکرونو خاوندان سره دملګرتوب په تار تړلي دي .
مثلا : محصلان ، زده کوونکي ، هنرمندان ، ورزش کاران او دنورو بیلا بیلو کټه ګوریو خلک یې سره یوځای کړي دي .
که څه هم نورې ډول ،ډول ټولنیزې رسنۍ شته دی، چې ځینې یې د کمپوټر په سکرین او ځینې یې یواځې د مبایل پرمټ کارول کېږي خو دفیسبوک ځانګړنه داده چې په دواړو کمپوټر او مبایل ټیلفونو کې د کاروني وړ دي.

# د فیسبوک پرمټ کوم کارونه ترسره کولای شو؟

د فیسبوک پرمټ کولای شئ، په لیکلي بڼه خپلو ملګرو سره زړه خواله وکړي، تصویرونه مو له نورو سره شریک کړئ، ویډیوګانې خپرې کړئ، یو له بل سره په اړیکه کې د خیرښیګنو له پیغامونو او خبرتیاوو خبر او هم خبرونه یوسره تبادله کړي .

د ناستو او غونډو د وخت ټاکل، د تفریح لپاره پلان جوړونه، د رخصتي او هم د مبارکیو پیغامونه هم شریک کولای شئ.

د سوداګریزو او سیاسی فعالیتونه لپاره هم د فیسبوک کارونه ګټوره ده، دغه راز یې پرمټ خپأل پخوانې او له تاسو لرې تللي دوستان موندلی شئ.

دکتابونو لوستل اودخپلي خوښې توکیو په اړه نورو ته معلومات ورکول هم د فیسبوک په فرصت سره کېږي .

دټولنیزو ، مدني او سیاسی خوځښتونو دتقویي لپاره فیسبوک یوه ښه او ارزانه وسیله ده چې تاسو یې پرمټ د نورو ملاتړ ترلاسه او یا دبل چا ملاتړ وکړي .

په حقیقت کې ټول وکړي کولای شی له فیسبوک څخه په یو نه یو ډول ګټه پورته کړي څکه خو فیسبوک ته کله « هرکاره سایټ » هم ویل کېږي .

فیسبوک دیوي قوي انټرنیټي شبکي په توکه د میلیونه انسانانو لپاره په ۲۴ ساعتونو کې له څنډ او رخصت پرته دکال په ټولو ورځوکې دملاتړ او برابرو کړو اسانتیاووچوکاټ جوړ کړي .

په دې ټولنیزه شبکه کې دکاروونکو فعالیتونه له تصوره لوړ دي په هره میاشت کې پر فیسبوک تر ۳۰ زره میلیارډه زیات مواد شریک کېږي لکه تصویرونه ، ویډیو ګانې ، پوسټونه ، دنورو ویبپاڼو لینکونه او نور .

وایي فیسبوک لکه دیو ژوندي موجود په شان د تغیر په حال کې دي ، برخلاف هغه رسنۍ چې تراوسني وخت دمخه تري خلکو استفاده کوله لکه راډیو ، ټلویزیون اخباراو نور یو محدود شمېر خلکو تري ګټه پورته کولای شوه بس .

خو فیسبوک نن سبا یوه داسې ټولنیزه شبکه ده چې په پراخه محتوا یې جوړښت کې یې ډېر خلک دخیل او دبشري ژوند بیلا بیل اړخونه منعکس کوي .

# ولې ځوان نسل فیسبوک کاروي؟

د دې پوښتنې اب ته ښايي هريو فرد خپل ،خپل خوابونه ولري او ښکاره ده چې لاملونه يې هم بيلا بيل دي چې مونږ يې دلته دځو مهمو هغو يادونه کوو.

د ټولنيزو چارو ترسره کول، په ځانګړي ډول د خپل ښوونځی اويا پوهنتون له ملګرو سره په مجازي نړي کې شراکت .

د خپلو دوستانو ، همزولو او ملګرو په اړه دنويو معلوماتو لاسته راوړلو په هدف .

یوله بل سره د پوهنتوني او ښوونځی درسونو کې د ستونزي پر وخت د نظرونه شريکول او همکاري .

په ټولنه کې دباور لاسته راوړل او له عاطفي اړخه د نورو د ملاتړ خپلولو تک لاره .

دځان مطرح کول او دخپلې نظريه او عقيدې شريکول دنورو سره چې د ځوانې په عمر کې داسې مسایل ډېرپام وړ وي .

دټولنيز کيدو هنر زده کول هغه چې له رسمي ژوند ها خوا فيسبوک د ډېرو ملګرو لرل ځوانان د خپلو ډېرو خواخوږو لرل يادوي.

دمسلکي مهارتونو زده کړه، د تکنالوژی برخه کې، چې د کارموندنې پرمهال ځوانانو لپاره ډېره پام وړ موضوع جوړوي.

دخپلو زده کړو اړوند علمي او مسلکي مواردو ته ځان رسول او له دي لاري دخپلې پوهي کچې لوړول .

د خپل ژوند له چاپيريال ها خوا لکه د کور او ښوونځي د باندې ماحول سره ځان اشنا کول .

مدني مشارکت په هغو ټولنو کې ځان شامل کول او د هغوی په چارو کې دخپل ملاتړ څرګندول چې فعالیتونه یې ددوي لپاره مهم او مانا لرونکي وي .

## ایا فیسبوک یو ډاډمن چاپېریال دی؟

په څرګند ډول لکه د موجوده واقیعي ټولنو په شان په مجازي نړۍ کې دټولنیزو شبکو هیڅ یو سایټ خامخا د ۱۰۰ سلنه امنیت لرونکي نه دې چې فیسبوک یې هم یوجز دي .
ځکه چې !
دا یوه ټولنیزه شبکه ده او امنیت خوندیتوب یې تر ډېره بریده یو د بل په مقابل کې د دي شبکي د کاروونکو پورې تړاو لري.
فیسبوک امنیتي اوخصوصي مهارتونه او زده کړي دخپلو کاروونکو لپاره برابروي .دا به دوالدینو په ګټه څو دفیسبوک له امنیتي مرګز څخه لیدنه وکړي چې د ځوانانو ، والدینو او نورو لپاره یوه ستره سرچینه ده .
دا لارښود کتاب او په پاڼه کې کارول شوي، امنیتي اطلاعات له دې امله د پام وړ دي، چې فیسبوک هرڅه وړاندې کوي، د کاروونکو محصول یې دی.
والدین باید په دې وپوهېږي، چې په ټولنیزو رسنیو کې امنیت یو ګډ مسولیت دی. د اطلاعاتو دومداره تبادله او اړیکه د مثال په توګه « د ټولو دوستانو خپلمنځي اړیکه، چې یو تصویر یې ترمنځ شریک کېږي، د هغو چې په دې سایټ کې شامل دي» د فیسبوک کاروونکو او سایټ ترمنځ او یا د ځوانو کاروونکو او والدینو ترمنځ یې.

له دې ځایه د دې پوښتني لپاره لنډ ځواب دا دی، چې په دې ټولنیز رسنیز چاپیریال کې د کاروونکي امنیت هغومره چې سایټ پوري تړلي پخپله ده پوري هم تړاو لري .
نو په کار ده، چې والدین باید دې چارې ته په پام د خپلو او اولادونو د اړیکو لارې خلاصې وساتي؛ ځکه چې ځوانان د فیسبوک د ټولو کاروونکو په څیر د پوسټ کولو او مطالبو شریک کولو په حال کې وي .

## د ټولنیزو رسنیو په کارونه کې کوم خطرات شته؟

په دې وروستیو کې هغه څیړنې، چې په ځانه کړي توګه ځوانانو ته د رامنځته کیدونکو خطراتو په باره ترسره شوي دي، پنځو مهمو موضوعاتو ته یې اشاره کړي ده .
لومړي : د دې اتکل، چې په انلاین ډول ځوانان له نورو دوه برابره د انحرافاتو خواته جذب شي، نو له دي ځایه د ځوانانو خپل رفتار په فیسبوک او یا بله ټولنیزه شبکه د خوندې پاتې کیدا او یا د هغه د زیانمنیدو سبب کیږي .
دویم : یوله معمولو مشکلاتو، چې په انلاین ډول ځوانان ورسره مخ کیږي، هغه دخپلو همزولو او یا مشرانو لخوا ځورونه ده لکه دتوهین امیزه الفاظو کارول او یا نامشروع غوښتني .
دریم : هغه ځوانان چې د ژوند چاپیریال یې د کور او ښوونځي پوري تړلي وي په ټولنیزو شبکو کې فعالیت یې په روانو مشکلاتو اخته کولای شي، ترهرې بلې تکنالوژۍ یې خطر خورا ډېر او زیانمنونکی دی.

څلورم : یوه خبره داده، چې ټول خوانان په انلاین ډول له خطراتو سره نه مخ کېږي بلکې هغوي ډېر لاس او ګریوان کېږي چې په افلاین ، واقعي ژوند ، کې هم له ځورونو سره مخ وي، لکه د سپین پوست لرونکی چې ښکلا یې ډېره وي.

پنځم : که څه هم، چې ډېری ځوانانو ته په ټولنیزو شبکو کې فعالیت د واقعي ژوند انعکاس ورکوي، مګر دا شبکه کولای شي، د واقعي ژوند مشکلاتو ته یې پراختیا ورکړې.

د هغه پوستې یا مطالب په اړه بخښنه غوښتل چې د غوسې په حالت کې یې نشر کړیی وي، د غبرګونونو سره مخ شی تر ټولو سخت کار دی.

په دې خاطر له دې بله مهمه موضوع داده، چې دهرې کته ګوری خلك دې د یو مطالب د خپرولو ترمخه دهغه د عواقبو په اړه فکر وکړي.

## په ټولنیزو رسنیو کې مهم خطرات عبارت دي له :

د ځان په اړه د ځینو اطلاعاتو خپرول :

الف : چې د بدخواهانو لپاره یې دده په موندنه او پیداکولو کې مرسته کوي.

ب : د چل او دوکې لپاره یې دا خپاره شوي معلومات وکارول شي.

ج :څه چې دده او یا بل چا لخوا خپاره شوي، ځینې شیان یې د رواني ځورونې سبب او یا یې اعتبار او شخصیت ته خطر پیښ کړي.

دانټر نیتي جرایمو په چوکاټ کې ویره او ډار چې د ځینو نامعلومو ادرسونو لخوا ګواښونه ورکول کېږي .

دتړولنیزو رسنیو ډېره کاروونه انسان دخپلو ورځنیو چارو په ترسراوي کې له نیمګړتیاو سره مخ کوي له دي ځایه مهمه ده چې والدین دخپلو اولادونو مخنیوي وکړي .
دناسمو او غیر اخلاقي پاڼو نندارہ چې داهم پخپله د شخص پوري اړه لري که څه هم چې نظر فیسبوک ته په نورو ویبپاڼو کې داخطر زیات شته دي .
له ځان څخه غټو خلکو سره نامناسبي اړیکي اړینه ده چې والدین ډاډمن اوسی چې په ټولنیزو شبکوکې یې د اولادونو فعالیت د هغوي د بی لاري کیدا لامل نشي کیدلای .
دځوانانو دخپلو او یا همزولو دپرمختکونو اعتبار ته صدمه رسول ، ځینې نا مناسب پوسټونه ، غیر اخلاقی او ناسمي ویډیو ګانې یا تصویرونه چې شخصیت زیانمنونکي دي ځینې وخت د ځوانانو ناپوهي له امله یې باید مشران دمخنیوي لپاره هڅه وکړي .

## د فیسبوک کاروونکو سره څنګه لکه د والدینو عمل وکړو ؟

تاسو تیک د واقعي ژوند په څیر د یو مثبت شخصیت، ښو اړیکو په ټینګولو، دا غیزناکو اخلاقو په جوړولو کې د خپل ماشوم سره د انټر نیټ په مجازي نړۍ کې مرسته کولای شی .
مونږ به عملي طریقو برخه کې یو ځانګړي بحث هم ولرو مګر دلته ځینې مقدماتي لارښوني چې په انټر نیټي نړۍ کې ستاسو د اولادونو څارنه کې مهم رول لري له تاسو سره شریک کړو .
له فیسبوک څخه کاراخیستنه کاملا شخصي ده له دي امله د امنیت لومړني ټکي دادي چې خپلو اولادونو سره خبري وکړي .هرهغه څه

چې تاسو یې په ورځپاڼو او نورو کې دټولنیزو رسنیو په اړه لولي او یایي دنورو ځخه ددي شبکي دمنفي اغیزو په اړه اوري مه یې باور کوي .

ځینې مشران چې ټولنیزي رسني نه درک کوي هغوي په دې باور دي چې کني د فیسبوک کارونه به دځوانانو د روږدیدا سبب شي .

داپخپله اشخاصو پوري اړه لري څکه دیوي کورني غړي که وګورو د فیسبوک کارونه به یې توپیر لري ځینې نور عواما شته چې پر ځوانانو اغیز کوي د ښوونځی چاپیرال او ناسم ملګري .

دیوي څیړني له مخې ویل شوي چې د فیسبوک کارونه په عامه اصطلاح پر فیسبوک مینو ځوانانو لپاره هم هغومره مهمه نه ده چې په ورځني ژوند کې یې دخوښې وړ مسایل دي لکه ورزش موسیقي او نوري بوختیاوي .

ځینې ځوانان دي. چې د فیسبوک پاڼه یې خلاصه کړي وي خو ورسره خپل نور ورځني مصروفیتونه مخې ته وړي که داچاره یې د کارونو مخې ته خنډ رامنځته کړي نو طبیعي ده چې دوالدینو دغوصې سبب یې کیږي .

هو که خدای مکړه کومه ناوړه مسله رامنځته کیږي، د والدینو په صفت یې تاسو په حل کې لومړنی لاس لرئ.

په داسې حالاتو کې کوښښ مه کوئ، چې جدي غبرګون ښکاره کړئ، څکه دا کارمعلوموي، چې باخبره اوسیدل څومره ګټور دي.

کوښښ وکړئ، د ستونزې په اړه خپلو اولادونو سره په سړه سینه خبرې وکړئ، هغوي واورئ او بیا پریکړه وکړئ.

دا د کورنیو ډولونو او اصولو پوري اړه لري، چې د ځوانانو وخت یې د زده کړي ،تفریح او د مسولیتونو ترسراوي لپاره څنګه تنظم کوي مثلا

هغوي کومو ساعتونو کې ټولنیزي شبکي کاروي څومره وخت په کمپوټر او مبایل کې بوخت دي .
که مو اولادونه پر انټرنیټ د خپلي بوختیا وخت او څرنګوالي په اړه معلومات نه درکوي ښه ده چې نظارت یې وکړئ.
ګټوره ده څو پخپله هغوي وپوهوي چې تاسو یې په اړه بشپړ معلومات لري داکاری ځکه مناسبت دي چې اولادونه به ستاسو له صمیمیت څخه خوښ هم اوهم به د انټرنیټ په نړۍ کې ناسم قدم پورته نه کړي.
فیسبوک کیدلای شي ، ستاسو لخوا د اولادونو د څارنې لپاره ښه وسیله شي ، دا شبکه د ځوانانو پرمخ د ټولنیزو اړیکو یو باب پرانیزي، چې پرمټ یې تاسو هم د خپلو ځوانانو له بیلا بیلو کړنو پوهیدلی شئ.
له ځوانانو وپوښتي چې د فیسبوک د کاروني او په ځانګړي ډول امنیتي خوندیتوب لپاره تاسو ته معلومات درکړي په دې سره له یوې ددي شبکي په اړه معلومات ډېر کړي او پردي به هم وپوهېږي چې هغوي خپل شخصي حریم ته څومره پاملرنه کړي .
که هغوي دي برخې ته پاملرنه نه وه کړي کولاشی په کډه له دي لاربنود څخه استفاده وکړي ، خپل ځان لپآره فیسبوک کې یو اکونټ جوړ کړي څو مو اولادونو سره ملګري شی چې داکارتاسو ته پر هغوي د نظارت ښه چانس درکوي .
داکار ډېري مشران کوي خو هغه څه چي مهم دي پرفیسبوک لکیني او کمنټونو ته باید پاملرنه وشی هسی نه داکارد پلار او ځوي ترمنځ د خجالتي اواړیکو زیانمنیدو سبب شی .

# په فیسبوک کې د اولادونو د فعالیتونو د نظارت لارې

یوه په زړه پورې طریقه داده، څو خپلو اولادونو سره د ملګري په څیر چلند وکړئ، ترڅو هغوی هم تاسو د یو ملګري په څیر خپل خواخوږي حساب کړي .

په دې صورت کې کولای شی د کورنی قوانینو له مخې داهره تنظیم کړي مثلا : هیڅوک نشي کولای دکورني دغړو د پوستونو په مقابل کې غیرمسولانه چلند وکړي ، داچې تاسو دخپلو اولادونو سره په فیسبوک کې ملګري اوسی کولای شی هغوي ته ډاډ ورکړي .

دکورني غړي کولای شی یوبل ته خصوصی پیغامونه ولیږي ، ځینې اولادونه غواړي خپلو والدینو سره فیسبوک کې ملګري شی خو له دي د خجالتي احساس کوي چې دملګرو په لیست کې یې د کور دمشرانو نومونه موجود وي .

ځینو بیا د مستعارو نومونو په کارولو دا مشکل حل کړی وي، که هغه د اولادونو له ډلی وي که دمور او پلار څخه .

ځینې والدین د خپلو اولادونو د ټولنیزو شبکو د پاسورډ په ترلاسه کولو غواړي، د هغوی د فعالیتونو نظارت وکړي داکارکوچنیو اولادونو په مقابل کې سم دي خو ځوانان تر ډېره غواړي ټولنیزي شبکي شخصي وکاروي

د نظارت بله لاره داده، څو د خپلو اولادونو نوم، ادرس او یا د مبایل شمېره په هغو سایټونو کې چې د لټون په هدف جوړشوي لکه ګوګل او یا «bing» کې وپلټئ څو په انټرنیټ کې د خپلو اولادونو په اړه ټولو مواردو ته لاسرسی پیداکړئ.

دغه راز په فیسبوک کې خپلو اولادونو سره له ملګرتیا پرته کولای شئ، هغوی، وځاري ددي کار لپاره باید له مشهورو انلاین شبکو « safety web » او یا هم « socialshield » کې نوم ثبتونه وکړي .

له دي لاري په هغه صورت کې چې اولادونه مو انلاین وي تاسو بې پیداکولی شئ.

## امنیتي حریم او په نني عصر کې تري ساتنه

مخکې له دې، چې د فیسبوک تنظیماتو جزیاتو ته داخل شو، د شخصي اطلاعاتو او د ټولنیز کیدلو پرمفهموم پوهیدل خورا ګټور دي.

دلته به يې د سابقي په اړه لنډ څه شریک شي او په ټولیز ډول به ددي لارښود کتاب په مرسته ځینې کلیدي او اصلي ټکي د ټولنیزو شبکو څوانو کاروونکو ته مشخص شي .

په رسنیز ډګر کې نني حریم تیر ته په کتو د ډیرو بدلونونو لرونکی دی، څیړونکي وايي خلک دي ته لومړیتوب ورکوي څو خپل خصوصی حریم په کنټرول کې ولري .

تردې خصوصی او محرمانه چې ان کیدای شی په ټولنیزو شبکو کې د فعالیتونه ل ماتي سره مخ کړي .

نن سبا په انلاین ډول د تصویرونو او نظریانو شریکول د نړۍ په کچه د وګړو ترمنځ د اړیکو ټینګولو وسیله ګرځیدلې ده .

څکه په نني عصر کې له رسنیو استفاده یوه ټولنیزه تجربه ده، نه یو فردي فعالیت او دایو متقابل حرکت یادیږي.

له هغه ځایه چې د نورو خلکو تصویرونه او فلمونه یوبل سره شریک کیږي ، تاسو چې دنورو پرپاڼه دهغوی شخصي تصویرونه کتلي شی

نوستاسو دخپلي پاڼي مواد چې تاسو به يې شخصي بولي هم بې نور ليدلی شی .

نو نتيجه اخلو چې په ټولنيزو شبکوکې دشحصی حريم امنيت ديوي مشارکتي تجربی انتقال دي . په دې اساس نشی کولای په کامله توکه د دخپلو انلاين پيغامونه کنټرول ولري که څه هم ډېر قوي امنيتي تجهيزات ولري .

يو امنيتي او د باور ټکي :

ستاسو لخوا هرډول پيغام مثبت وي که منفي کولای شی له نورو خلکو سره ستاسو پر اړيکو او ستاسو په اړه دنورو پرنظر او قضاوت اغيز وکړي . بايد په ياد ولرو چې په ټولنيزوشبکوکې همدا مونږ يو چې پر نورو خپل تاثير پريباسو او داتاثير زمونږ فعاليتونو پوري تړاو لري چې بايد مثبت اوسی .

د ځوانانو اطلاعات :

ځيرنو ښودلې چې پرفيسبوک پاڼه د ځوانانو خپاره کړي اطلاعات په حقيقي ژوند کې دهغوي پر اړيکو له خپلو همزولواو نورو سره ډېر اغيز لري .

که څه هم د ځوانانولخوا خپلو همزولو ته پاملرنه يو ښه عمل دي خو دا بايد هير نه کړي چې ددوي د مطالبو او پوسټونو ليدونکي د بيلا بيلو ګټه ګوريو خلک دي .

پرخپلو همزولو تمرګز سره کيدلای شی ځينې مهال داسې څه خپاره کړي چې د نورو غبرګونونه راوپاروي چې بيرته ګرځيدل يې بيا ستونزه نه هواروي .

ددې لپاره چې خپاره کړي مطالب يې د حساسيتونو او مشکلاتو سبب نشي ځوانان په دې برخه کې دخپلو والدينو همکاري ته اړتيا لري چې بايد مرسته تري وغواړي .

د باور موضوع :

په ځينو مواردو کې د والدينو نظارت سره سره چې ځوانان يې ټولنيزې شبکې يواځې د خپلو همزولو د اړيکو تر کچې کاروي مشکلات رامنځته کيدلای شي .

امکان لري کوم ملګري د ملګرتيا اړيکه تر پښو لاندې کړي او هغه څه چې ستاسو اولاد ورسره شريک کړي چې يواځې ددوي مربوط کېږي دشوخي له مخې کاپي او له نورو سره يې شريک کړی .

له دې ځايه دا موضوع ډېره حساسه ده چې حتي که تاسو خپلو ملګرو سره هم په انلاين ډول څه شريک کوي نو ډېر دقت نه بايد کار واخلي.

## نېک شهرت، اعتماد او انټرنيټي پلټنه

په پلټونو سايټونو کې د مورد نظر شخص د نوم په اضافه کولو هرهغه څه ته لارسی پيدا کړي چې د هغه په اړه په انټرنيټ کې خپاره شوي وي هو دا معلومات ، تصويرونه او ياد ويډيو ګانې هغه دي چې پخپله دي شخص او يا نورو دهغه په اړه خپاره کړي وي .

دا د انټرنيټي پلټنو له مواردو څخه ده او دا معلومات په انټرنيټ کې زمونږ له هغو فعاليتونو راټول شوي چې مونږ ايميل ادرس جوړکړي ، شمېره مواضافه کړي وي ، پيغام مو ليږلي وي او يا مو چټ کې شريک کړي وي .

یو باور دا وجود لري، چې په انټرنیټ کې د معلوماتو خپرول خوانانو ته په زیان دي خو په کلي ډول دادرسته نه ده؛ ځکه د خوانانو د هڅوني او پرمختتک لپاره هم له دې لارې ډېر کارکېږي؛ خو شرط دادی چې هغوي دخپل شخصي حريم اړوند مطالب چې انټرنیټي امنيت ته يې خطرپيښوي خپاره نه کړي .

لکه ستاسو دکور ادرس او یا نور خو په یاد ولري چې په ښوونځی ، پوهنتون او یا نورو برخو کې خپلي لاسته راوړني بيان ځو ستاسو لا نور پرمختګ ته لاره هواره شي .

ډېري والدين په دې باور دي چې په فيسبوک کې شخصي معلومات ددوي د ځوانانو لپآره په زيان تمامېږي مګر دايو منل شوي حقيقت دي چې داکار خامخا په زيان نه دي .

ډېرکله په فيسبوک کې دځينو خلکو لخوا ناسم الفاظ کارول ، زورول او يا دهغو کسانو لخوا چې نا اشنا دي جنسی مسايلو په اړه خبري له خطرناکو مواردو څخه شمېرل کېږي چې کيدلای شی ځینې مهال ځوانان ورسره مخ شي .

شخصي مسايل د ټيلفون شمېره او داستوګني ځاي په اړه معلومات لازم نه دي چې ورکړل شی خو په ټولنيز ډول ددي معلومات خپرول کوم باک نه لري چې تاسو په کوم ښار کې ژوند کوي .

د باور ټکي :

په انټرنيټي پلټنه کې هيڅ ډول منفي اړخ نشته ځکه همدا اوس سلګونه میلیونه خلک په انټرنيټي پلټنه بوخت دي؛ خو هغه څه چې والدين يې تمه لري، داده چې اولادونه يې مثبت فکر او عمل ولري .


څو خبري د پام وړ دي :

۱- مونږ باید د خپلو انلاین خبرو او لیکنو ته ډېر دقیق اوسو څو داسې څه خپاره نکړو چې زمونږ او یا نورو شخصیت ته په زیان وي .
۲- هغه څه نه باید باخبره اوسو چې نور یې زمونږ په اړه وایي او بایې خپروي .
۳- پر انټرنیټ دخپل امنیتي خوندیتوب لپاره باید دټولنیزو شبکو یو له بنو کاروونکو څخه و اوسو .
۴- له نورو انلاین وکړو سره په کارده با ادبه او صمیمي چلند وکړو .

## څنگه خپلو اولادونو ته د فیسبوک تنظیمات غوره کړو ؟

په دې برخه کې تاسو ته د فیسبوک د تنظماتو لپاره معلومات درکول کېږي څو مو په دریو مهمو برخوکې د خپلو اولادونو نظارت او ملاتړ وکړي .
دا دري برخې عبارت دي له امنیت ، شخصي حریم او د باور ساتنه ده که تاسو د فیسبوک د تنظمیاتو او ځانکړنو په اړه معلومات غواړي نو پخپل کور کې د فیسبوک ځوان کاروونکي وپوښتي دابه تاسو سره مرسته وکړي څو پوه شی چې هغوي له فیسبوک څخه څه ډول گټه اخلي .
دا دمشرانو لپاره یو لارښود دي او اصلي موخه یې تاسو سره دخپلو ځوانانو په لارښونه کې مرسته کول دي .
له هغه ځایه چې نن سبا ډېري والدین هم فیسبوک کاروي نو تاسو هم کولای شی له دي لارښود څخه استفاده وکړي .

Children need to be honest about their age




**ځوانان باید دخپل عمر او زیږدیدو کال ښودلو کې ریښتني وي:**

فیسبوک له خپلو کاروونکو غواړي څو دخپلي زیږیدني نیټي په اړه دقیق معلومات ورکړي ، که عمرله ۱۳ کالو کم وي په فیسبوک کې د نوم ثبتولو اجازه نه ورکول کېږي .

هغه کسان چې عمرونه یې د ۱۳ او ۱۸ کلونو ترمنځ وي، د عمر کموالي له امله یو لړد ملاتړ ځانګړو مواردو ته اړتیا لري .

کله چې په فیسبوک کې یو نوی اکونټ جوړوئ، لومړی له تاسو د زیږیدنې نیټې په اړه معلومات غوښتل کېږي .

د دي دلیل دادی، څو فیسبوک وپوهېږي، چې د شخص عمر ۱۳ کاله دی او که له اتلسو کالو ټیټ دی، ځکه که عمر یې کم وي داکونټ جوړولو اجازه نه ورکول کېږي .

هو که عمر یې د ۱۳ او ۱۷ کلونو ترمنځ وي د فیسبوک کارولو اجازه ورکول کېږي خو دعمر کموالی له امله یو لړ ملاتړ کوونکو مواردو ته اړتیا لري .

فیسبوک دا چاپیریال دي چې یواځې لویانو او نویو ځوانانو ته مناسب دي او هم یې قوانین او مقررات د لویانو لپاره په نظر کې نیول شوي دي .

ددې ټولو سره باید یاده کړو چې د ۲۰۱۰ کال په جنوري میاشت کې د یوې څیړنې په اساس ویل شوي وو چې ۳۷ سلنه د د لسو او دولسو کلونو عمر لرونکو ماشومانو په فیسبوک کې غړیتوب درلود .

ددې مانا داده چې هغوی په فیسبوک کې د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره دخپل عمر په اړه دروغ ویلي وو.

تاسو مشران کولای شي ساعتونه د فیسبوک پرکټورتیا او زیان بحثونه وکړي او معلومه ده چې ډېري پرهمدې مسلی بیلا بیل نظرونه لري .

که تاسو هم له ۱۳ کلونو کم عمره ماشومان لري چې فیسبوک کاروي نو دا حق تري واخلي او هغو سایټونو او پروګرامونو ته یې دعوت کړي چې د هغوی عمر سره سمون خوري .

خو که له دي ټولو سره ستاسو ماشومان غواړي فیسبوک وکاروي نو دابیا تاسو پوري اړه لري چې شخصي او امنیتي حریم ته یې لا ډېره پاملرنه وکړي .

تاسو هغوی ته په فیسبوک کې دکارولو یو چوکاټ برابراو ترډېره کوشش وکړي څو یې هغوی ته احساس ورکړي چې تاسو یې ملګري یاست .

هو تاسو په فیسبوک کې د خپلو ماشومانو فعالیت په بشپړ ډول تر کنټرول لاندې ونیسی ددې کار لپاره پاتې مطلب ولولي .

**خپل ملګري په دقت غوره کړئ:**

همدا چې تاسو په فیسبوک کې اکونټ جوړ کړئ، تر څه ځنډ وروسته به د ځینو له لوري تاسو څخه د ملګرتیا غوښتنه وشی .

کله مو چې د ملګرتیا غوښتنه ومنله، هغه شخص چې په فیسبوک کې څه فعالیت کوي تاسو تري خبریږي همداسې هغویې ستاسو فعالیتونو څخه خبریدو ته لاسرسی پیداکوي .

تاسو گوري که د ملگرتیا غوښتنه د داسې چا لخوا شوي وي چې تاسو هم غواړي ملگري یې شی نو د دوستانو په لیست کې ور زیات کړي او که مو کومه اړیکه نه ورسره لرله او ومو نه غوښتل چې اړیکه ورسره ولري نو په داسې حال کې بیا پر not now کلیک وکړي نو هغه به ستاسو دملگرو لیست کې اضاف نشي .

تاسو اندیښنه مه کوئ، هغه شخص به د فیسبوک لخوا داسې کوم پیغام لاسته رانه وړي، چې گنې تاسو یې د ملگرتیا غوښتنه رد کړي .




څرنگه چې کولای شئ، هغه شخص چې په فیسبوک کې له تاسو د ملگرتیا غوښتنه کړې، د خپلو ملگرو په لیست کې یې ورزیاتولي شئ، دغه راز یې له لیست څخه لیرې کولی هم شئ.

ددي لپاره دهغه شخص اړوند پاڼي ته په ورتلو لاندیني برخه کې کلیک وکړي له لیست څخه دهغوي په لرې کیدا به دلته هم کوم پیغام ترلاسه نه کړي .



**امنیتي ټکي:**

ځیرنو ښودلې، چې د انټرنیټ په مجازي نړۍ کې د نورو سخت چلند او انتقادونه په واقعي ژوند کې هم د مشکلاتو سبب کیدلای شي.

په ځینو حالاتو کې پر دې ټولنیزې شبکې ستاسو فعالیت، تاسو له ګواښونو او نورو امنیتي مشکلاتو سره هم مخ کولای شي.

ځکه ډېری خلک چې د انتقاد زغم نه لري، د فیسبوک مسایل واقعي ژوند ته راولي او نورو ته په یو نه یو ډول خطرات پیښوي .

**د پیغامونو messages پرپاڼه لیکل wall posts او تازه معلومات news feed خدمتونه:**

په فیسیبوک کې د کاروونکو ترمنځ اړیکو لپاره بیلا بیلې لارې دي، یو هغه یې د پیغام ده، چې د یو لیکلي پیغام په استولي تاسو کولای شئ، خپلې اړیکې ټینګې او د مقابل لوري ځواب ترلاسه کړئ.

بله لاره پر پاڼه د لیکلو ده، wall چې دلته لیکل ټول کتلی شئ او دا په ښکاره اړیکه ده، پام مو وي، چې له دې لارې خپل شخصي پیغامونه شریک نه کړي.

د تازه معلوماتو news feed برخه ده، چې د لیږل شویو مطالبو ټولګه ده، چې فیسبوک کاروونکي یې پخپلو کورپاڼو موندلی شئ.

**د شخصي حریم یو امنیتي ټکي:**

څه چې کوي او وایي بیرته تاسو ته راګرځي. دا تاسو سره مرسته کوي، چې د نورو ملګرو پر wall خپرو شویو مطالبو ته نظر ورکړي. ستاسو پیغام تاسو څنګه معرفي کوئ؟ هو همیشه کوښښ وکړئ، د چا سپکاوی ونکړئ؛ ځکه هرعمل عکس العمل لري.


که غواړئ یواځې خپل یو ملګري سره پیغام شریک کئ، د هغه لپاره مناسبه لاره د پیغام اړیکه ده، یا په چټ خونه کې لیکل دي؛ خو دلته

هم پام کوئ، هسې نه ستاسو ملګري مو دا شخصي پيغام کاپي او نورو سره يې شرک کړي؛ نو محتاط اوسئ.

**د خپلو اولادونو پروفايل کنټرول کړي:**

د فیسبوک کاروونکي هره ګړی، کولای شي، خپل پروفايل profile ته په ورتلو پر edit my profile باندې کلک وکړئ، خپل تصوير بدل او يا هم ليکل شويو معلوماتو کې بدلون راولئ.

که څه هم فيسبوک خپل کاروونکي د دوی په اړه معلوماتو ورکولو ته هڅوي؛ خو جبري نه ده چې ټول ځايونه بايد تاسو حتمي ډک کړئ. ستاسو اولادونه که ونه غواړي کولای شي خپنې معلومات شريک نه کړي ورته مشوره ورکړي .




**زما د پروفايل معلومات :**

دلته چې تاسو کوم معلومات ګورئ، د خپل عمر په تناسب کولای شئ، ځينې يې څواب او نور يې پريږدي؛ ځکه دا ستاسو شخصي حريم دي. «د بيوګرافی ، د نقل قولونو او د خپلې خوښې عبارت ليکلو ته ځای نشته دی».

ځوانانو ته نه ده، په کار چې په یوې لیکنې ان خپلې د راز څخه نور خبر کړي، چې وواییې له چاسره اړیکه لري او څوک یې خوښېږي .
نوځکه ځوانانو ته سپارښتنه کېږي، چې پر فیسبوک ترډېره د خپل زړه خبري هغه چې یې د شخصي حریم اړوند دي شریک نه کړي .

**د شخصي حریم اړوند ټکي:**

تاسو کولای شئ، انتخاب وکړئ، چې ستاسو د پروفایل پاڼه کوم کسان وشي لیدلای ، کولای شئ، وټاکې چې ستاسو معلوماتو ته څوک لاسرسی لرلای شي.
په دې برخه کې ځوانانو ته سپارښتنه کېږي، چې یواځې هغو ته دا اجازه ورکړي، چې د دوستانو په لیست کې یې دي.
د بیوګرافي اړوند ځای، چې د ځوانانو لپاره یو په زړه پورې برخه جوړوي، څو په دې پاڼه کې د ځان په اړه یو څه ولیکي؛ خو باید یاد ولري، چې له اړتیا پرته لیکل امکان لري، ستاسو په زیان او ځینې مهال د خجالتئ سبب مو شي.
حتی یو مطلب چې په ښکاره بې ضرره ښکاري، د خپلې خوښې نقل قولونو favorite quotations برخه کیدلای شي، د شخص اعتبار ته صدمه ورسوي.
والدین باید باوري وي، چې اولادونه یې په فیسبوک کې د خپلو شخصي معلوماتو ښودلو لپاره ډېر موارد نه کاروي.
د خوښې او علاقې وړ likes and intrests برخه چې ځوانانو مرسته کوي، څو د خپل مزاج برابر ملګري پیدا کړي.
د زده کړي او کار education and work برخې په اړه معلومات کولای شئ، ځینې ځوانانو ته خطر او ګواښونه متوجه کړي .

خپلو اولادونو ته لارښونه وکړي، چې د اړیکو معلومات contact information برخه کې ډېر محتاط اوسی ځکه کیدلای شي له دې لارې د نورو ځورونو او ان ګواښونو سره هم مخ شی .

**په فیسبوک کې د شخصي حریم تنظیمات:**

له ځو مواردو پرته فیسبوک کاروونکي کولای شی کنټرول کړي، چې کوم کسان یې پوسټونه وګوري . او له ۱۸ کلونو کم عمره کاروونکو ته بیا لا زیات د شخصي ساتنې امکانات شته دي.

فیسبوک نوم، تصویر، پروفایل، جنسیت، د ګروپونو غړیتوب او نور هغه چې هغوي پورې اړه لري، نورو ته ښکاره کوي؛ خو تاسې کولای شئ په دې برخو کنټرول ولري .

مثلا خپل تصویر خپور نکړئ، کیدلای شي، کوم بل تصویر پورته کړئ او په کارنه ده، چې په ګروپونو کې غړي شئ، دغه راز د امنیتي خوندیتوب لپاره کولای شی خپل پوره نوم نشر نه کړي .

تاسو کولای شئ، محدودیت ولګوئ، پردې چې د پلټنې له لارې تاسو ځوک موندلای شي، په دې برخه کې یواځې هغوي چې ستاسو ملګري دي پیداکولی موشی.

**امنیتي او د اعتماد ټکي:**

د شخصي حریم برخه کي یوه مسله ډېره مهمه ده، چې والدین یې باید په پام کې ونیسي، که ستاسو ځوانان د امنیتي خوندیتوب لپاره خپل تصویر پورته نه کړي او یاهم پوره نوم ورنه کړي د یوي ګټي سره بل زیان دادي چې ستاسو نظارت به پرې نه وي .


که دا کار ستاسو مشورژ سره وي ښه ده او که نه نو بیا به مو د اولادونو له فعالیتونو ناخبره پاتې شئ، چې د فیسبوک پرپاڼه یې لري.

# د نابالغو اشخاصو لپاره اضافي امنیتي تدابیر

یو سلسه ځانګړي تدابیر هم د نابالغو اشخاصو لپاره شته دي چې ځینې یې د شخصي حریم برخه کې د ټولو افرادو لپاره د تنظیم وړ دي .
د دوي لپاره باید د ملګرو ګروپونه جوړ شی چې همزولي یې وي او په دې توکه په ګروپ کې د خپلو درسونو او ځینو علمي مسایلو په اړه بحثونه ولري .
لکه چې د مشرانو لپاره ټول افراد د انټرنیټ کاروونکو تر چوکاټ پورې دي؛ خو د نابالغو لپاره ټولو افرادو څخه مطلب د ماشوم ملګري، د کورنۍ غړي او یا هغه چې په ښوونځی کې یې ټولګیوال دي .
د والدینو نظارت سره دا کار سبب کېږي، چې که نابالغه کسان هڅه هم وکړي پر فیسبوک پاڼه کې له نورو سره پر اړیکو نه توانېږي .
د پلټنې برخه کې د نورو افرادو او نابالغو اشخاصو ترمنځ توپیر دادی، چې دوی لپاره دوه لارې شته دی، یو دا چې ما د فیسبوک پرپاڼه وپلټه او بل دا، چې زما لپاره د نورو د ملګرتیا غوښتنه راولیږه . دلته چې بیا ټول افراد په حقیقت کې د ټولو په مانا دي .

CS CamScanner

## د شخصي حریم د کنټرول تنظیمات:




د ۱۸ کلونو څخه د کم عمر کسانو ته د شخصي حریم تنظیماتو سپارښتنه کېږي، په پورته تصویر کې د recommended لیکل وګورئ.

دلته تاسو د ساتنې درجه ټاکي چې که تاسو ځوانان ددې برخې تنظیمات ونکړئ ورسره کولای شئ، د شخصي تنظیماتو پاڼه کې وګورئ، دهغو اشخاصو د محدود کولو لپاره لارې چارې شته چې غواړي ستاسو پوستونه وشي کېدلای .

په پورته مثال کې د recommended برخه کې دري نوري لاري هم شته دي ټول ، یواځې ملګري ، دملګرو ملګري .

د ټولو لاسرسی په دې مانا دي چې پر فیسبوک پاڼه ټول ستاسو پوستونه او مطالب لیدلای شي دامسایل مهم دي ځکه یې تاسو ته د تنظیم کولو سپارښتنه کېږي .

که ځوانان د ملګرو ملګري چیک کولي په دې مانا دي چې هغوي هرڅه پورته کوي دوي ورته لاسرسی لري .

یواځې ملګري یوه محدوده ساحه ده مانا داچې هغه ځانګړي کسان چې ستاسو د دوستانو په لیست کې دي ستاسو مطالبواو پروفایل ته لاسرسی لري .

**امنیتي ټکی :**

د انټرنیټي خوندیتوب او هوساینې لپاره تاسو ته سپارښتنه کېږي چې فقط له ملګرو یې پیل کړي او بیا د تنظیماتو شخصي کولو لپاره customize settings برخې ته په ورتلو نور اطلاعات هم ترلاسه کړي.

**شخصي حریم د تنظیماتو شخصي کول:**

ددې برخې سره که څه هم ډېري کسان اشنایی لري خو لاهم یوشمېر خلک پوره بلدتیا نه لري څو وشی کړاي د خپلو پوسټونواو مطالبو د لیدونکو شمېروټاکي اوپه دې برخه لا نور کنټرول هم ولري .

دپانې لاندیني برخه کې د شخصي تنظیماتو برخه choose your privacy settings غوره کړي یو لینګ د customize په نوم شته دي .

کله مو چې دلته کلیک وکړ یوي بلې پانې ته به دعوت شی چې د شخصي حریم امنیت لپاره به ډېر امکانات درکړل شی .




هغه څه شی مونږ یې نورو سره شریک کوو things I share :

د انتخابي تنظیماتو پاڼه په دریو برخو ویشل شوي ده .


۱-هغه څه چې مونږ یې شریک کوو things I share.

۲-هغه څه چې نوريې شریک کوي things others share .

۳-او د اړیکو معلومات contact information .

په تصویر کې ګوري چې ستاسو لخوا کسان پخپله غوره کېږي هغوي چې باید ستاسو مطالبو ته لاسرسی ولري .

مثلا : ستاسو پوسټونو ته ټول فیسبوک کاروونکي لاسرسی لري او تاسو غواړي تغیرېې کړي د ملګرو ، ملګري او یاهم یواځې ملګري انتخاب کړي .



په دې پاڼه کې د ذکر شویو دریو برخو لپاره یوشان انتخابونه موجود دي، د نورو لپاره د مطالبو شریکولو things others share برخې ته جدي پام کوي .

د مثال په توګه د ملګرو ملګری مو کولای شی، تاسو او یا مو اولادونه په یو تصویر کې شریک کړي او یا داسې څه خپاره کړي چې ستاسو د اولادونو هویت او د استوګني ځاي ورسره مشخص کیږي نو څکه سپارښتنه کیږي چې دابرخه یوځاي د ملګرو لپاره فعاله پریږدي .

« وروسته به د ځایونو یا places برخې ته هم ورشو »

داړیکو معلوماتو contact information بر خې ته پاملرنه وکړئ، د ملګرو لپاره له وړاندې، دا برخه فعاله خو شاید تاسو ونه غواړئ ان دوستان مو هم د ټیلفون شمېره ترلاسه او د ایمیل ادرس مو ولري .


ددې لپاره دوه لارې شته دي:

۱-هغه ته د پروفایل په پیل کې ځاي مه ورکوي .

۲-د انتخابي تنظیماتو customize settings څخه تر ډېره استفاده کیږي ددې لپآره چې ستاسو په اړه معلومات څوک وشی کیدلای .


امنیتي ټکی :

مونږ نه وایوچې تاسو په ځانګړي ډول نابالغه کسان دي پرفیسبوک د خپلي استوګنیځاي معلومات ورکړي او همدارنګه ښه ده چې ځوانان د خپل ټیلفون شمېره هم ورنه کړي که څه هم دابرخه له وړاندې د ملګرو لپاره فعاله وي .



# شخصي کول

د شخصي کولو برخه تاسو ته دا صلاحیت درکوي خو خپلو پوستونو او معلوماتو لاسرسي ته داشخاصو ، گروپونو او یا گټه گوریو پوري محدود کړي يايي هم فقط یواځې ماته only me حالت ته پریږدي خو معلومات له تاسو پرته ټولو ته پټ وي .




کله مو چې په پاڼه کې لکه په پورته تصویر کې ښکاري پر خاصو خلکو specifc people باندې کلیک وکړ دلته کولای شی د هغو کسانو نومونه ذکر کړي چې غواړي ستاسو مطالبو ته لاسرسی ولري .

په دې ځاي کې یو بل امکان هم شته دي چې په لیست کې د ځینو نومونه لري کول دي hide this form

چې په انتخاب سره داکسان د مطالبو له لیدو محروم کېږي . که مو فقط یواځې زه only me برخه غوره کړه مطالبو او اطلاعاتو ته له تاسو پرته نور لاسرسی نه لري .


**دشخصي پوستونو لپاره د لیدونکو ټاکل :**

فیسبوک د دې امکان صلاحیت هم تاسو ته درکړی، چې کوم خلک ستاسو شخصي پوستونو ته لاسرسی ولري .

له عمومي تنظیماتو پرته دلته مخکې له دې، چې مطلب خپور کړئ، کولای شئ د لیدونکو کته ګوري یې غوره کړي .

تاسو به کنټرول کړي چې کوم کسان کولای شی ستاسو لیکنه ، تصویر او یا ویډیو چې خپروي یې وګوري .

د بیلګې په توکه که تاسو کوم نوي مطلب خپروي او د news feed برخه تازه کوي لومړي هغه چې خپروي ویي لیکي بیا مخکې تردي چې مطلب شریک کړي او د share پر برخې کلیک وکړي هغه وړوکي قلف چې د share په چپ لوري کې دي کلیک وکړي دلته به یوه برخه پرانیستل شی او پریکړه ستاسو دي چې څوک د خپل پوستې لیدونکي ټاکي .




**د لیستونو جوړول او ورځخه استفاده :**

د فیسبوک له برابروکړو اسانتیاو یو هم د لیستونو جوړول دي، چې تاسو کولای شی د ملګرو لیست جلا د ټولګیوالو جلا او نور ...

که تاسو د خپلو ملګرو لیستونه جوړکړل په ګټه به وي، ځکه که مو مطالب د هرې ډلی ملګرو پورې تړاو درلود په اسانی سره به یې هغوی سره شریک کړي .

**د یو لیست جوړول :**

د دې کار لپاره اصلي پاڼې ته ورشئ، د خپل فیسبوک پروفایل یا خپل نوم غوره کړئ، تاسو ته به یو بله پاڼه خلاصه شي.




کله چې نوي پاڼه خلاصه شوه پر friends به کلیک وکړئ، تاسو ته به څو بیلا بیل لیکل مخې ته راشي، چې کولای شئ خپل ملګري په هماغه ګټه ګوریو کې تقسیم بندي کړئ.



# فیسبوک کې ګروپ جوړونه

## Groups

ګروپ دا له لیست سره توپیر لري، کله چې تاسو په فیسبوک کې یو ګروپ جوړوئ، د مدیریت په اخیستو یې بیلا بیل مطالب تصویرونه او ویډیوګانې د ګروپ له غړو سره شریک کړئ.
کولای شی د خپلې خوښې بیلا بیل ګروپونه د ټولګي ملګري، د کار ملګري، د ورزش ملګري او یا نورو څخه جوړ کړئ.
امنیتي ټکي:
په یاد ولرئ، چې ستاسو د ګروپ هر غړی، کولای شي، بل کس ګروپ ته دعوت او اضافه کړي، چې په دې توګه دا بیا له کنټرول څخه خارج کېږي.
د ګروپ مدیر کولای شي غړي لیرې او حذف کړي؛ خو که په یو دمې ډول شمېر لوړ شي، بیا یې کنټرول مشکل کار دی.
مثلا : تاسو د کریکټ لوبغاړو یو ګروپ جوړ کړي دخپلي خوښی کسان مو پکې غوره کړي خو پردي بندیز نشی لکولای چې بل کس دي نور خلک دي ګروپ سره نشی یوځاي کولای . خو کولای شي مدیر یې بیرته لرې کړي .
بله خبره دادي چې کیدای شی ګروپ کې داسې کسان هم یوځای شي چې ستاسو دملګرو په لیست کې به نه وي نو په حالت کې هغوي

هم ستاسو مطالب چې کیدای شي یواځې مو دخپلو ملګرو لپاره شریک کوي وګوري .


تاسو دوالدینو په توګه خپلو اولادونو هغوي چې عمرونه کم دي او فیسبوک کاروي متوجه اوسی چې په هرګروپ کې یوځاي نشی خکه کیدلای شی په ځینو هغو کې غیراخلاقي لیکل ، تصویرونه او یا ویډیو ګانې شریکي شی .

**د یو ګروپ جوړول:**

د دې کار لپاره ساده او اسانه لاره داده، چې پخپل کمپوټرکې د http:// www.facebook.com/groups ولیکي او بیا پر creat group باندې کلیک وکړئ.

او یا هم د خپل فیسبوک په اصلي پاڼه کې چپ لوري ته ورشئ او د new group نه لاندې پر creat group کلیک وکړئ.






دګروپ لپاره نوم غوره کړئ، لومړني غړي یې ټاکي؛ خو په یاد لرئ، چې وروسته نور غړي هم زیاتولي شی او هم د ګروپ نوم بدلولو امکان شته دي .


پریکړه ستاسو ده چې ګروپ مو خلاص open ترلي closed او یا محرم secret وي .ترلي ګروپ مانا داده چې لیست علني دي خو دمحتوا یې خصوصي یواځې د غړو لپاره کله چې تاسو ګروپ جوړوي

او نور پکې اضافه کوي معلومات یې تاسو ته د news feed برخه کې
درکول کېږي .
که څه هم نور خلک نشي کولای د گروپ غړي شي خو په دې
پوهېږي چې ستاسو ددي ترلي گروپ غړي څوک دي .
خلاص open گروپ داپه دې مانا دي چې هم دگروپ محتوا او هم
یې غړيتوب په علني ډول دي .
محرم secret گروپ چې هم یې نوم او هم یې محتوا او هم غړي پټ
دي او نور یې په اړه معلومات نه لري .

امنيتي او د باور ټکي:

ځوانانو ته په دې برخه کې سپارښتنه کېږي، چې بايد محرم يا secret
گروپونو څخه استفاده وکړي، د خپلو همزولو او ملگرو ترمنځ، د
شخصي امنيتي حريم لپاره دا مهمه ده؛ ځکه په داسې مواردو کې به
ډېر کم د فيسبوک له خطراتو او گواښونوسره مخ شي .
په فيسبوک کې هغه گروپونه چې تاسو یې غړي یاست ستاسو د اصلي
پاني چپ اړخ کې درته ښودل کېږي .


CamScanner




## څرنګه کولای شو د ګروپ غړي معلوم کړو؟

تاسو کولای شئ معلوم کړئ، چې په کوم ګروپ کې څوک غړیتوب لري. ددې کار لپاره د فیسبوک پر کورپاڼه کې چپ لوري ته په اړونده ګروپ کلیک وکړې ترې وروسته بیا د members پر لیکلو کلیک وکړې څو د ګروپ د ټولو غړو لیست وګورې .

له دي ځایه کولای شی نورکسان دگروپ غړي کړي او یا هم داگروپ پریږدي .




## په فیسبوک کې د ځای معلومول:

د فیسبوک ځایونه facebook places هغه سیستم دي چې د شخص د اوسیدو ځاي پرې معلومیږي دا اسانتیاپه ځینو مبایل ټیلفونوکې شته ده.

البته دا اسانتیا په ټولو مبایلونوکې نشته ده په هغو ځایونوکې دلاسرسی وړ دي چې د gps څخه استفاده کیږي او یا هم په مبایل ټیلفونوکې موجود وي .




فیسبوک د ځاي معلومولو اسانتیا په پرمختللو مبایل ټیلفونوکې برابرکړې دي تاسو والدین باید خپلو ځوانانو ته لارښونه وکړي چې که پخپلو مبایل ټیلفونوکې د ځاي معلومولو امکانات فعال ساتي نو یواځې دې هغو کسانو سره شریک کړي چې دوي ته دباور وړ دي .


**په فیسبوک کې د ځای معلومولو غیر فعاله کول:**

که تاسو پخپله له دې برخې استفاده نه کوئ ، امکان د دې شته ، چې د نورو لخوا ستاسو په اړه یو ځای وښودل شي.

که تاسو یوځل هم له دې اسانتیا استفاده وکړئ ، نو کیدلای شي ، چې له ملګرو څخه مو کوم یو د یوې سیمې سره ونښلوي .

له دې څخه دخلاصون لاره شته ده څو تاسو دابرخه غیرفعاله کړي ددې کار لپاره باید friends can check me in to places مراجعه وکړي او غیر فعال یې کړي .

دشخصي حریم تنظیماتو لپاره هغه برخه کې چې نورو یو څه شریک کوي په دې توکه عمل وکړي .د تنظیماتو لپاره په ښي لوري کې کیک وکړي او د disabled په کلیک کولو دابرخه غیرفعالېږي .




دلته کولای شئ، له خپلو ملګرو هغه صلاحیت واخلي چې پرمټ یې تاسو ته یوي سیمي یا ځاي سره تړاو ورکوي .


**امنیتي ټکي:**

د اوسیدو ځای، یوه حساسه مسله ده، که څه هم تاسو د شخصي حریم لپاره بیلا بیل تنظیمات چمتو کړي وي .

فیسبوک ستاسو د اوسیدو ځای له وړاندې هغو ته معلوموي، چې ستاسو دوستان دي؛ خو چې تاسو پخپله معلومات شریک کړي اوسی .

دا د ځوانانو د نظارت لپاره یوه لاره ده؛ خو سپارښتنه هغوی ته، چې قانوني عمر یې نه وي پوره کړی، یعنی له ۱۸ کلونو کم عمر ولري داده، چې د اوسیدو د سیمې معلومول امکان غیر فعاله کړئ.

د دې لپاره، چې د انټرنیټ په نړۍ کې د فیسبوک په کارولو مشکلاتو سره مخ نشی خپلو شخصي تنظیماتو ته ورشي او هغه برخه غیر فعاله کړي چې لیکل شوي زما ملګري کولای شی ما دسیموسره ونښلوي .




CamScanner


# د ستونزو راپور

ددې لپاره چې پرفیسبوک له هغوم کسانو خان خلاص کړي چې پوهېږي تاسو ته زیان رسوي او په خطر کې مو واقع کوي بیلا بیلې لارې شته دي .

که پوهېږي تاسو او یا مو کوم ملګري ته د فیسبوک له لارې څوک خطر پیښوي کولای شي له امنیتي څواکونو مرسته وغواړي .


مثلا په امریکا کې کولای شی ۹۱۱ شمېرې ته زنګ ووهې او په افغانستان د مرستي لپاره ۱۱۹ شمېره ده .

که پوهېږي کوم شخص تاسو ته خطر پیښوي مثلا ناسم تصویرونه اوویډیوګانې ستاسو او یا نورو ملګرو پر پروفایل نښلوي نو دخپلو ملګرو اصلي پاڼي ته په ورتلو چپ لورې چې لیکل شوي دا شخص له خپل لیست څخه لرې او یایې په اړه راپور ورکړه کلیک وکړي په دې توګه به ستاسو ملګري په محرمانه توګه معلومات ترلاسه کړي .




وروسته به بیا تاسو دلایل وړاندې کوي چې ولې تاسو داشخص د خپلو ملګرو له لیست څخه لرې کوي .

په تصویر کې یې وګورئ




که غواړې، چې هغه شخص ته هم خبرداری ورکړې او هم یې له خپل لیست څخه لرې کړې؛ نو لکه په تصویر کې، چې ښکاري پر bloc this person باندې کلیک وکړئ.

## د ځان وژنې مخنیوی

فیسبوک هغه ټولنیزه شبکه ده، چې د کاروونکو لخوا فعالیت یې د هغه شخص په اړه معلومات نورو ته ورکوي .

فیسبوک چې په کارلو یې له ډېرو ګټو برخمن کیدای شو ځینې مهال کیدلای شي یوشمېر ځوانان ددې شبکې پرمټ د ځان وژنې لپاره یو ګام پورته کړي .

ځینې مهال ځوانان چې د ژوند ستونزو سره مخ شي؛ مثلا دوامداره بې کاري، په نشه يي توکیو روږیدل او ځینې نور رواني اختلالات داسې پریکړې کوي، چې د ژوند لپاره يې خطر پیښوي .

مونږ دلته تاسو سره یو لینک شریک کوو چې په دې کې به د ځان وژنې د علایمو یو لیست مطالعه کړي .

http://www.suicidepreventionlifeline.org/GetHelp

کیدلای شي څوک ستاسو د ملګرو له دې، دا نیت ولري، پر فیسبوک د هغو له لیکنو، تصویرونو او ویډیوګانو له خپرولو شاید تاسو ته اندیښنه رامنځته شي؛ نو په کار ده، چې په ځان وژنې مشکوک شخص سره د مرستې په نیت همکاري وکړئ.

د دې لپاره بیلا بیلې لارې دي، کولای شئ، پخپله له هغه سره له نژدې خبرې وکړئ او یایې هم د کورنۍ غړو او والدینو ته معلومات ورکړي .

# پایله

له دې ټولو توضیحاتو او مطالبو چې تاسو ولوستل معلومه ده، چې فیسبوک هغه ټولنیزه شبکه ده، چې په نړۍ کې د خپلو ډېرو اسانتیاو او برابرکړو امکاناتو له امله زیات کاروونکي لري .

فیسبوک د ټولنیزو، سیاسي، فرهنګي او هنري نظریاتو په تبادلې سره په دې برخه کې د تجربو او پرمختګونو د خبریدو یواځې اسانه او ارزانه سرچینه ده.

د دې شبکې کارونه په بشپړ ډول فردي بڼه لري، دا پخپله اشخاصو پورې تړاو لري، چې په مثبت اړخ یې کاروي او که منفي .

دا مسله د ځوانانو او مشرانو دواړو لوریو لپاره د پام وړده .

څرنګه چې د فیسبوک کارونه د اشخاصو په اصلي هویت او نوم سره ده؛ نو ویلی شو چې په ډېرو موادو کې د اشخاصو د حقیقي ژوند تصویر پکې لیدل کېږي.

ځوانان چې د فیسبوک کاروونکي دي، تر ډېره یې په فیسبوک کې د تحصیلي دوران اغیزې لیدل کېږي، د دې لپاره چې هغوی د انټرنیټ په مجازي نړۍ کې زیانمن نه شي، د والدینو مرسته یې ډېره اړینه ده.

دغه راز ماشومان چې په راتلونکې کې د فیسبوک د نړۍ غړي کیدونکي دي په کار ده چې والدین یې د جدي څار لاندې ونیسي .

ددې لپاره چې هغوی په اصولو برابر او د فیسبوک ښه کاروونکي اوسي نو تاسووالدین یې باید مرسته وکړي څو دغه څو موارد په سمه توګه لاسته راوړي .

مخکې ترديې، چې په فیسبوک څه خپاره کړئ، د مثبتو او منفي اغیزو په اړه يې فکر وکړئ، څو په فیسبوک کې فعالیت يې د واقعي ژوند خطرات زیاته نه کړي .

دا څومره مهمه اُو اړینه ده، چې ستاسو اولادونه د فیسبوک ښه کاروونکي اوسي او مثبته گټه ترې پورته کړي .

د ټولنیزتوب اصل سره برابر کله چې هغوی پر فیسبوک ښه ملگري ولري او دوستانه اړیکې وپالي؛ نو انلاین تجربې به يې په شخصي ژوند کې خورا گټورې تمامې شي.

مونږ هیله من یو چې د فیسبوک دا لارښود به تاسو والدینو سره مرسته وکړي، چې د خپلو اولادنو په څارنې به يې د مثبتو فعالیتونو ملاتړ وکړئ او د منفي ټکو په لیدو به يې خپلې رغنده لارښوونې له هغوی نه سپموئ.